پریولو مګر که جنب وو، مراقی وائی د سر مسح دی وکړی په صحیح روایت کی، لکن خوله او پزه دی په تکرار ور مسح کړی، وعلیه التعامل «مر» او که مړی جنب وو، یا حائضه یا نفساء بنځه وه نو په تکلیف سره دې په خوله او پزه او به ور لغړه وی تاچی طهارت یې پوره سی»

# تحقیق غسل المیّت

**پوه سه**، چی په نیزد امام ابویوسفؒ دی استنجاء نه ور وهی، تاچی نور نجاست خارج سی، لاسترخاء المفاصل او خلاصه والاهم وده غه مذهب ته تللی دی، **مسئله**: په ابتداء د غسل چی متوضی لاسونه مینځی د مړی د لاسو پریولو نسته، ط

**مسئله** د پښو پریولو د مړی دی نه ځنډه وی، ولی چی په ځای کی د جمع ذالی داو بونه دی

**مسئله**: که سړی بالغ سوا او لیونی وو بیا په هغه لیونتوب کی مړ سو او دس نه غواړي قیاسا علی الصبی **مسئله**: په فتح القدیر کی وائی چی غاسل دی پر ګوتو یو ټکړه پیچی او د مړي غاښونه او تالودی او سنډان دی په مسح کړی، او د غه رنګه په پزه هم و دی. او د نوک په غاړ کی دی ګوته ولغړه وی، وهذا مما استحبه بعض العلماء وهو حسن فی تنظیف المیت

**تنبیه** استثناء د جنب چی مصنفؒ په نورالایضاح کی کړیده، او استثناء د حائض او نفساء چی په مراقی کی کړیده - دا یوازی د خلخالیؒ نظر دیؒ، قال الامام الطحطاویؒ وهو غریب مخالفٌ لعامة الکتب کما فی الشبلی علی الکنز،

او په تبیین کی وائی چی جنب لکه نور مړی دی، درویش وائی چی علماوو له بنائی چی په قول دیوازی خلخالی دی فتوی نه ورکوی» قال المصنفؒ:

## وَصُبَّ عَلَيْهِ مَاءٌ مُغْلًى بِسِدْرٍ اَوْحَرَضٍ وَالّا فَالْقُرَاحُ

## وَهُوَ الْمَاءُ الْخَالِصُ

او بیا دی تودې کړه سی پر مړی او به چی د بیری د ونې پانې پکښې ایشولی وی، او یا بروڅه او که هغه دواړه نه





وه نو بیا دی قراح (خالصی او به) پرتوی کی» درویش وائی کی په صابون پری مینځی هم روا دی بلکه اتلو نکی خیر و دی طحطاوی»

**فائده**: د مغلی خبره معلومه سوه چی تودی او به د مړی د غسل د پاره افضل دی، کذا فی النهر» کلمه د او د پاره د تخییر ده یعنی غسل ورکوونکی مختار دی په پریولو سره چی مینځی ولی هر یو کافی دی» په حدیث شریف کی راغلی دی چی خو وخت چی په مدینه منوره کی د علیه الصلوة والسلام وفات سوه. نو ده مبارک غاسلانو بنځوته وویل چی غسل ورکړی په اوبو او سدر سره»، قال المصنفؒ:

## وَيُغْسَلُ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ

او پریولې دی سی سر او ږیره د مړي په خطمی سره **پوه سه** چی خِطمی په کسره او فتحه د خاء دواړه روا دی لکن کسره یې اکثره ده تر فتحی په عربو کی. او په پښتو کی فتحه اکثره ده» دیو وابنه نوم دی چی اصلاً په عراق کی پیدا دی او خوشبو یې هم دی، او په پاکولو کی د ستو د صابون ورکوی، او د یونانی طبیبانو سره پیدا دی،

**مسئله**: که د سړي یعنی مړي پر ږیره وبیښتان نه وه یا د سر نه وه او یا یې سر خریلی وو، او پر ږیره یې هم وبیښتان نه وه یا نه وه راغلی یا کوسه وو یا یې ږیره خریلی وه نو تکلیف ته دخطمی د پریولو ضرورت نسته لعدم الباعث علیه» قال المصنفؒ

## ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى يَسَارِهٖ فَيُغْسَلُ حَتّٰى يَصِلَ الْمَاءُ اِلٰى مَا يَلِى

## التَّخْتَ مِنْهُ

بیا دی پری اچول سی مړی پر چپه اړخ، نو دی ور پریوله سی، یعنی د ده راسته اړخ چی لوړ سو، ځکه چی شروع په راسته اندام سنت دی. تر هغو پوری چی رسیږی او به و هغه جانب ته د مړي چی و تخته ته ښرمه دی چی چپه طرفته د مړي دی قال المصنفؒ:

## ثُمَّ عَلٰى يَمِيْنِهٖ كَذٰلِكَ

او بیا دی مړی پری باسی پر راسته طرف د غه رنګه یعنی تر هغو پوری مینځی چی و هغه ځای ته د مړي او به ورسیږی چی تختی ته ښرمه دی یعنی چپه طرفته ته»

قال المصنف: **وَيُغَسَّلُ اِنْ كَانَ جُنُبًا** که جنب وو نو غسل دی ورکړی شي پوره
چه دا مذهب دی د امام اعظم او ... غسل دی ... په صحیح حدیث کی راغلی دی چه حنظلة بن راهب چه به
... د احد شهید شو، علیه الصلوة والسلام وویل چه ما ولیدل ملائکی چه غسل
ورکوی حنظلة بن ابی عامر ته په مابین کی د آسمان او ځمکی په اوبو د سرو زرو په
لوښو کی ده سپینو زرو، ابواسید وائی چه مونږ ورغلو او د حنظله ره مړی موو کتی نو د سر نه
ولیدلی نو به او به توئیدلی، نو علیه الصلوة والسلام د دی پاره چه وړی شهید ته ولی ملائکو غسل
ورکوی، نو یې د حنظله ره ماینی ته سړی واستاوی هغې ورته وویل چه دی چه دکوره وتی جنب
وو، په بل روایت کی راغلی دی چه ده چه د جنګ اوغږ اوریدلی نو د ډیره تلواره غسل
نه وکړی، قال المصنف:

**اَوْقُتِلَ صَبِيًّا اَوْمَجْنُوْنًا** او یا کوچنی او لیونی مړه کړه شول ولی لوی ته غسل ځکه
ورکوی چه هغه گناه کار کیدلای شي، او کوچنی او لیونی
له خو گناه نشته نو په معنا کی د شهدا او د احد نه دی، چه پرسد او لویان خلک وه. قال المصنف

**اَوْحَائِضًا اَوْنُفَسَاءَ اَوْاُرْتُثَّ بَعْدَ اِنْقِضَاءِ الْحَرْبِ**
یا ښځه چه شهیده سوه حائضه یا په نفاس کی وه. او دلیل یې هغه د جنب دلیل دی، او یا وخنډیدی
یعنی ژوندی وو، پسله ختمیدو د جنګ، قال المصنف:

**بِاَنْ اَكَلَ اَوْشَرِبَ اَوْنَامَ اَوْتَدَاوٰى اَوْمَضٰى عَلَيْهِ وَقْتُ**
دا رتثات صورت دا دی چه یا خوراک وکړی او یا او به وچښي او یا بیده شي او یا دوا وکړی، او یا وخت

**الصَّلٰوةِ وَهُوَيَعْقِلُ اَوْنُقِلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ لَا لِوَطْيِ الْخَيْلِ اَوْ**
د لمانځه پرتیر شي او دی په هوش کی وي، او یا د جنګ د ځایه نقل کړي بیله دی سببه چه آسان





... لاندی نه کړی بلکه د پاره د دواء وغیره نقل کړه شي، نو که د جهت ځخه د خوف د
... نقل کړه سو هغه مرتث نه دی غسل دی نه ورکوی **پوره سه:** چه پوازی
... بلکه قدرت پر اداء د لمانځه هم غواړی نو غه تېپی په هوش کی خو وو مګر
هوش نه دی ... پر اداء و لمانځه نه دی، لوری حتی مرتث نه دی یعنی غسل ...
... په هیڅ ډول پر اداء و لمانځه ...
کوی، قال المصنف:

**اَوْصٰى اَوْبَاعَ اَوْاِشْتَرٰى اَوْتَكَلَّمَ بِكَلَامٍ كَثِيْرٍ** او یا یې وصیت وکړی خواه
په کار و د دنیا وی یا د اخرت لکن دا مذهب دی د ابویوسف او امام محمد چه په وصیت سره
د امور د اخرت مرتث نه دی، او فقیه ابوجعفر طحاوی چه په وصیت سره هله مرتث ګڼړل
کیږی کی وصیت تر دوو خبرو بالا وو او کی په یوه خبره یا په دوو خبرو وصیت وکړی مرتث نه دی
او یا یې یوشی رانیوی او یا یوشی خرڅ کړی او یا یې ډیری خبری وکړی، قال المصنف

**وَاِنْ وُجِدَ مَاذُكِرَ قَبْلَ اِنْقِضَاءِ الْحَرْبِ لَايَكُوْنُ مُرْتَثًّا**
او که دا مذکوره شیان او کارونه پیدا سوه د مخه د جنګ تر ختمیدو نو بیا مرتث نه دی حتی چه
غسل دی نه ورکوی، قال المصنف:

**وَيُغَسَّلُ مَنْ قُتِلَ فِى الْمِصْرِ وَلَمْ يُعْلَمْ اَنَّهُ قُتِلَ بِمُحَدَّدٍ**
او غسل دی ورکوی هغه چا ته چه په ښار کی مقتول پیدا شي، او د دی یې نه معلومیږی

**ظُلْمًا اَوْقُتِلَ بِحَدٍّ اَوْقَوَدٍ وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ** او غسل دی ورکوی هغه چا ته چه دی په محدد ظلماً
وژل سوی دی او یا په حد زنا کی او یا په قصاص کی او لمونځ د جنازی دی هم ورکړی:

**فَائِدَة** هغه کسان چه مرتث ګڼړل سول هغه په امورو کی د دنیا شهیدان نه دی
یعنی غسل به ورکوی او په امورو کی د اخرت: من الانعام والمراتب

**سوال:** روژانی ته خودغسی کول حَرام دی **جواب** دحرمت څخه د روژی مات والی نه دی لازم لکه روژانی چی غیبت وکړی مثلًا اوکه دوو ښځوځپل فرجونه سره مَښَل چی مصحق یه بولی نوکه نه سوی انزال روژه یه نه ماتیږی اوکه انزال سوی روژه یه ماته ده۔

**مسئله:** مصنفؒ انزال په کتو اوپه فکرسره مقید کی ددی سببه که سړی انزال سی په سه کولو ذکرد ښځی دیوځای سره که څه هم په مابین کی د ذکراو د ښځی دځای حایل وی لکن حرارت دبدن محسوسه کیږی روژه یه ماته ده **مسئله:** که روژانی په لاس کی ځان انزال کړی روژه یه ماته سوه په نزد دعامة المشائخ وهوالمختار، قه، ط، در، **مسئله** ورته فِعل چی استمناء یه بولی په عربی بیله روژی هم حرام دی کی عرض قضاء دشهوت وه اوکی غرض ځان ساتل وه د زناء څخه مثلاً یعنی دایه گمان وی که نه استمناء ونه کړم دشهوت دغلبی دسببه به زنا بالواطت ځندی وسی، نوبه ورته فعل جواز ولري، انما الاعمالُ بالنیات، قال المصنف:

اوپایه سه غوړکړی

## اَوِادَّهَنَ اَوِاکْتَحَلَ وَلَوْطَعِمَهُ فِیْ حَلْقِهٖ

یعنی روژه یه نه ماتیږی مراقی وائی لکه سړی چی په روژه کی دگرمی دسببه په یخواوبولمبیږی چی ب طن یه هم یخ سی روژه یه نه ماتیږی، ولحچی دا یخوالی دبدن ترمساماتوداخلیږی اوهغه اعتبارنه لری کذا قال الطحطاوی، اودغه روژه نه ماتیږی چی سترکی توری کړی که څه هم خوند د نجوبه طق کی محسوس کړي اوپارنگ د نجوبه نارولکی ووینی، وهوالاصح وقول الاکثر،مه مراقی وائی که دغه رانجه خوشبویه وی اوکه نه وی، نوددی څخه دامعلومه سوه چی روژانی ته بویول دگل یا رمشکو وغیره مکروه نه دی **مسئله** که روژانی په سترگوکی شیدی واچولی اوپایه دواء ور واچوله سره دیوقتم روغنویه په حلق خوند معلوم سو روژه یه نه فاسدیږی، ولی چی داخِل من المسام دی اوهغه ته اعتبارنسته، مر،ط، په حدیث شریف کی چی روایت یه عائشه رضكړي دی داسی راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به سترگی توره ولې وهوصائمٌ،

**فائدهٌ:** دحضرت الامام الاعظمؒ څخه داسی روایت دی چی روژانی ته مکروه ده چی په واله کی مثلًا دگرمی دسببه لمبیږی اوپاکالی پرځان





**پوهسه:** چی هیڅ په حقوقوکی د بنده گانو عذرنه ده، مثلاً یوسړی وه بل ته شئی په بیت ورکی اوپایه امانت ورکړی، نوهغه سړی بغل ته کښنیښنومثلاً چی ولاړیږی ځندی هیرسو اوور لاړسو ضمان یه پرلازم دی، **پوهسه** چی فساداو بطلان په عباداتوکی یوشئی دی البته په معاملاتوکی فرق سره لری، لکه بیع فاسده اوباطله کماتقرر فی محله» ط، در، قال المصنفؒ:

## فَاِنْ کَانَ لِلنَّاسِیْ قُدْرَةٌ عَلَی الصَّوْمِ یُذَکِّرُهٗ بِهٖ

نوکه چیری وو ناسی (هیروونکی) خوړونکی لره قدرت پر روژی یعنی پر پوره کولو د روژی

## مَنْ رَاٰهُ یَاْکُلُ وَکُرِهَ عَدَمُ تَذْکِیْرِهٖ وَاِنْ لَمْ یَکُنْ لَهٗ

ترمابنام بیله ظاهره مشقته لکه قوی ځوان، نوروژه دی وریاد کی هغه څوک چی روژانی پر

## قُوَّةٌ فَالْاَوْلٰی عَدَمُ تَذْکِیْرِهٖ

خوړلو ووینی، اومکروه ده چی نه ئې وریاد وی، پرمختاره مذهب کذا فی فتح القدیر اوبعض فقهاءؒ وائی چی نه دی وریادوی ولی چی دغه خوړلك دده څخه فاسدوونکی د روژی نه دی، اوکه نه وو روژانی لره قوت تامه د روژی د پوره کولو نواولی داده چی نه دی وریادوی لکه سپین زیری اوپا ضعیفه ځوان، ولی چی په دی پیاده ولو کی قطع د رزق الهی راځي» قال المصنفؒ:

## اَوْاَنْزَلَ بِنَظَرٍ اَوْفِکْرٍ وَاِنْ اَدَامَ النَّظَرَ وَالْفِکْرَ

اوپانوانزال سو په سبب دکتو وکس ته دښځی کی خپله مابینه وی اوکه بیگانه وی اوپا په فکروهلو انزال سی، که څه هم ډیروخت ته گوري اوپاډیرفکروهی روژه یه نه ده فاسده ولی چی دده څخه نه صورة دجماع وپید اسوی دی اونه معنا دجماع وچی انزال دی په مباشرة په لحظ سره،

کش کړي او روژه یه هم پیاده، نو روژه ماتیږي، ولې خوده ته معده وه چې دغه دود یه حلق وجوف ته وای داخل کړي **سوال**: د مخ تېره سوه چې د ګل یا د مشکو په بوټولو روژه ماتیږي نو فرق یه څه دی! **جواب**: په بویولو کې د ګل وغیره صرف هغه هوا چې د ګل وغیره په بوی خوشبویه سوې وه پزې ته داخله سوه، او په ما نحن فیه کې جوهر د دخان نس ته ور سیدی» قال المراقي وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس» قال المصنف

## اَوْغُبَارُ وَلَوْغُبَارُ الطَّاحُوْنِ

او یا یه په خوله ګرز ننوتی که څه هم ګرز د ورېدو د ژرندی وي، یعنې روژه یه نه دهماته، لکن په سکب الانهر کې وائي که د روژاتي چاره کیده د کولو څخه د داسي کار چې ګرز دده په خوله ننوتی، او بیا هم یه هغه کار کاوه روژه یه فاسدیږي فافهم **مسئله** که د سړي کسب داوو چې د ژرندی غنم لې وخلګو ته په مزدوري ور غلبیلول» چې په هغه کې خواه مخواه ګرز په خوله یا پزه ننوزي روژه یه نه په ماتیږي للضرورة» **مسئله** که د سړي څپلې او ښکی وحلق ته ور توی سوی، او یا یه خوله وحلق ته ور توی سوه، او یا یه د باران څاڅکی په خوله کې ولویدی روژه یه ماتیږي لامکان الاحتراز عنه» حتی کې یه قصد دغه شیان تیر کړه کفاره پر لازمه ده، بحر، ط، قال المصنف: **وَذُبَابٌ**: او یا د روژاتي په خوله مچ ننوته او حلق ته ئې ور سیدی او تیر سو روژه یه نه ده ماته لعدم امکان الاحتراز عنه، او دغه حکم د غوماشې دی چې د روژاتي په خوله ننوزي» قال المصنف:

## اَوْاَثَرُطَعْمِ الْاَدْوِیَةِ فِیْهِ وَهُوَذَاكِرٌلِصَوْمِهِ

او یا اثر د خوند د دواء یه په خوله کې پیدا سو چې ده مثلاً تر سپیدو د مخه خوړلې وه روژه یه نه وه ماته، قال

## اَوْاَصْبَحَ جُنُبًا وَلَوِاسْتَمَرَّیَوْمًا بِالْجَنَابَةِ

او یا یه سحار کړ روژاتي چې د شپې جنب سوی وي او غسل یه نه وو کړي نو په دې جنابت یه روژه نه ده ماته که څه هم همیشه نوب وکړي پر هغه جنابت پوره ورځ بلکه که ډیرې ورځې دوام پر جنابت وکړي روژه





یه صحیح البته دوام پر جنابت ګناه ده لقوله تعالی: فَالْاٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ الآیه یعنې تاسی ښځو سره جماع کوی تر هغو چې پوره د سپیدو نو غسل خواه مخواه وروسته تر سپیدو د ماښام چې ورځ ده او د روژې وخت دی ولقوله علیه الصلوٰة والسلام: وَاَنَا اُصْبِحُ جُنُبًا وانا ارید الصیام واغتسل وَاَصُوْمُ» قال المصنف:

## اَوْصَبَّ فِیْ اِحْلِیْلِهِ مَاءً اَوْدُهْنًا

او یا توی کړه سوه دغه په غارک او به یا روغن روژه نه ده په ماته لکن دا په نیز د امام اعظم او امام ابویوسف وائي که دا او به یا روغن سپوږمی ته ور سیده روژه په ماتیږي او که په ټلکه ته ذکر وه بالاتفاق روژه نه په ماتیږي **مسئله**: کې د ښځې وکس ته او به یا روغن واچوله خواه مخواه روژه په ماتیږي بالاتفاق علی الاصح» س، ط، قال المصنف:

## اَوْخَاضَ نَهْرًا فَدَخَلَ الْمَاءُ اُذُنَهُ

او یا یه غوټه وخوړه په واله کې نو یه ورته غوږ ته ننوتی روژه یه نه ده ماته، ولې چې غسل ته خلګ ضرورت لري، م، قال المصنف

## اَوْحَكَّ اُذُنَهُ بِعُوْدٍ فَخَرَجَ عَلَیْهِ دَرَنٌ ثُمَّ اَدْخَلَهُ مِرَارًا اِلٰی اُذُنِهِ

او یا یه وګرووی غوږ د لرګي په خاشه نور او وتله پر خاشه باندې خیره د غوږ او بیا یه څو واره خاشه په غوږ وچخ کړه، روژه یه نه ده ماته بالاجماع کما في البزازیه» ولې چې ما توونکی شی و د ماغ ته نه ور سیدی» کذا في المراقي» قال

## اَوْدَخَلَ اَنْفَهُ مُخَاطًا فَاسْتَنْشَقَهُ عَمَدًا اَوِابْتَلَعَهُ

او یا یه داخل کې د پزې روژاتي پید اکړه ګړناټ نو اګړناټ ده پوره ته کش کړه او یا یه د ستونی د خوا تیر کړه روژه یه نه ده ماته، **مسئله**: مراقي وائي که د سړي نازې تر خ[illegible] ا وتلی او ده بیرته پوره ته کش کړي او تیر ئې کړي نو که دده نازې د خولې څخه نه وي قطع سوی

## وَانْ اَقَامَ بِهَا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِىْ عَشَرَ

اوکہ حاجي پاتہ سو پہ منیٰ کي تر هغو چي لمر لويدي د دولسمو ورځي يعني وروستہ تر لمر لويدو دوتي نوشي يعني دمړوغيره

## فَلَاشَئَ عَلَيْهِ وَقَدْ اَسَاءَ وَانْ اَقَامَ بِمِنىً اِلٰى

خو بلندي نشته، لکن پردغہ کار سره گناه گاره سو، اوکہ دي پاتہ سو پہ منیٰ کي تر سپيدو چاودلو ځلري

## طُلُوْعِ فَجْرِ الْيَوْمِ الرَّابِعِ لَزِمَهٗ رَمْيُهٗ وَمِنَ السُّنَّةِ

ورځي نو پر ده لازم دي رمي د څلورڅلوريمي ورځي، او بل دسنت

**اَلنُّزُوْلُ بِالْمُحَصَّبِ** څخہ نازليده دي په محصب کي، **پوهسه**: چي محصب چي ابطح يہ هم بولي ديو نژدي ځاي نوم دي ومکہ تہ چي هوري شيلہ ده چي ميده ميده شگي پہ کبني دي، **پوهسه**: چي د ابطح نزول صرف زمونږ حنفيانو پہ نيز سنت دي پہ دي سبب چي عليہ الصلوٰة والسلام پہ حجۃ الوداع دلتہ اړولي وه او پہ مبسوط کي وائي کہ چا نزول د محصب پرينو گناه كاره دي، دَروليش وَائي چي کہ څہ هم ما پہ او لو حجو کي محصب ليدلي دی او هلتہ چي يو مسجد دی چي عليہ الصلوٰة والسلام چيري چي پہ محصب کي لمونځ کاوه پرهغہ د گرد غہ مسجد هغه جوړ دی او ډير بناپستہ مسجد لري غرمہ مي پہ کبني تيره کړيده، او دما پښين لمونځ مي پہ هغہ مسجد کي اداء کړي دی او بيا مکي شريفي تہ تللي يم، قَالَ المصنفؒ:

**سَاعَةً بَعْدَ اِرْتِحَالِهٖ مِنْ مِنًى** يو گړي دی نزول پہ کبني وکړي وروستہ تر کوچ د منیٰ څخہ، دروليش وائي چي د نزول د محصب پہ هغہ وخت کي حاجيانو کولای سوای چي د منیٰ څخہ بہ دوی پر پښو مکي شريفي تہ تلل نولي يو گړي غرمہ مثلاً پہ محصب کي تيرکړه بيا بہ مکي تہ روان سوه، مگر پہ او سنی زمانہ کي محصب څوك پيژني لانہ، ولي چي دوی يعني حاجيان پہ ټکسي موټرانو د منیٰ څخہ برابر مکي تہ ځي حتیٰ کہ حاجي وټکسي والانہ ووائي چي ما محصب تہ صرف يو گړي ورَوَلہ چي دا سنت پر ځاي کړم،





ټکسي والا ورتہ ووائي: وَاللّٰهِ مَا اَعْرِفُ الْمُحَصَّبَ وَلَا الْاَبْطَحَ، نو د دغہ مجبوري د سببہ د حاجيانو تہ ولو څخہ دا سنت پاتہ دي، اِلَّا الشَّاذ وَالنَّادِر، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ:

**وَيَشْرَبُ مِنْ مَّاءِ زَمْزَمَ وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ** او دغہ رنگ سنت دي چي سړی بہ چښي اوبہ د زمزم د څا او بنہ دي ځان پہ او بہ کي، او ډنس دي پہ ډکوي پہ دري وار سره.

## وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ النَّظَرُ اِلَيْهِ قَائِمًا وَالصَّبُّ مِنْهُ عَلٰى رَأْسِهٖ

او مخامخ وقبلي تہ دي دريږي پہ وخت کي د چښلو د او بو د زمزم، او د قبلي وخوا تہ دي گوري او پہ ولاړي

## وَسَائِرِ جَسَدِهٖ وَهُوَ لِمَا شُرِبَ لَهٗ مِنْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

دي چښي او او بہ د زمزم دي توی کړي پر سر او پہ ټول بدن خپل، او د زمزم او بہ د هر غرض د پاره دامورو څخہ د دنيا او اخرت چي وَچښي کافي دي، **پوهسه**، چي اهل تجربہ د علماوو او د صالحينوؒ او بہ د زمزم د مختلفو امراضو د پاره او د رقم رقم اغراضو او مطالبو د پاره چښلي دي خدای جل جلالہ هغہ د دوی مقاصد او مطالب حاصل کړي دي، لکن دروليش وائي چي حسن نيت او ټينگہ عقيده پہ دي باره کي مهم رول لري، د شک او شبهي پہ ستر گو دي نہ ورتہ گوري، لان ماء زمزم من عظيم قدرة الله جل سلطانہ في تلك البقعة الشريفة، دروليش وائي چي طريقہ او د ادب د آب زمزم چښلو داده: چي حاجي دي د زمزم څا تہ ورسي او پخپلہ دي او بہ راوکاږي يعني پہ سَولاغہ لکن دا كار بہ پخوا زمانہ کي چي د زمزم او بہ پہ سولغور اکښہ کيدلې، چي دروليش هغہ وخت هم پياد دی خو مکن وو، لکن اوس چي د زمزم څا څوك ليد لای نہ سي، بلکہ د مشين پہ ذريعہ او بہ ځندي را کاږي او هلتہ نلکي دي هغہ او بہ اوس خلگ چښي خو پہ هر صورت حاجي دي پہ او سنی زمانہ کي پہ هغو او بو مخامخ وقبلي تہ بنہ ځان او بہ کړي، او بايدي ساه وکاږي، او بايدي او بہ و چښي او څو واره دي د عنبي وکي او هم پہ لادي کعبي شريفي تہ گوري، دروليش وائي د داخلہ څخہ د احاطي د زمزم څنو کعبہ شريفہ نہ معلوميږي نو صرف وجهت تہ د کعبي شريفي دی گوري. او مخ دي پہ پړيولي او نړي هم پہ

# د پښتو نور الایضاح دریم ټوک د مضمونو فهرست


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۱ | دنیرې په باب تحقیق | ۶۸ |
| ۲۲ | دنیرې تورَولو مسائل | ۶۹ |
| ۲۳ | باب العیدین | ۷۰ |
| ۲۴ | شکایت | ۷۰ |
| ۲۵ | مسواک وهل | ۷۵ |
| ۲۶ | درویش واوئ | ۸۴ |
| ۲۷ | فوائد | ۸۹ |
| ۲۸ | تفریع | ۸۹ |
| ۲۹ | حکایت | ۹۰ |
| ۳۰ | درویش واوئ | ۹۱ |
| ۳۱ | پوښتنه | ۹۳ |
| ۳۲ | خو دحیرانتیا خبره ده | ۹۶ |
| ۳۳ | باب صلوٰة الکسوف والخسوف | ۹۷ |
| ۳۴ | اختلاف د علماوو | ۹۹ |
| ۳۵ | درویش واوئ | ۱۰۰ |
| ۳۶ | باب الاستسقاء | ۱۰۲ |
| ۳۷ | واقعه | ۱۰۵ |
| ۳۸ | باب صلوٰة الخوف | ۱۱۰ |
| ۳۹ | دفائدې خبرې | ۱۱۰ |
| ۴۰ | ښهائسته فائده | ۱۱۳ |






# د پښتو نور الایضاح دریم ټوک د مضمونو فهرست


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۱ | تاریخي کتنه او یاد ګار | ۱۱۵ |
| ۴۲ | باب الجنائز | ۱۱۷ |
| ۴۳ | درویش واوئ | ۱۱۹ |
| ۴۴ | واقعه فی تائید التاخیر | ۱۲۵ |
| ۴۵ | تحقیق غسل المیت | ۱۲۸ |
| ۴۶ | ښهائسته فائده | ۱۳۳ |
| ۴۷ | تاریخي یاد ګار | ۱۴۲ |
| ۴۸ | فصل | ۱۴۳ |
| ۴۹ | ومن خصائص صلاة جنازة النبي ﷺ | ۱۴۹ |
| ۵۰ | فصل السلطان احق بصلوٰته | ۱۵۴ |
| ۵۱ | مهمه فائده | ۱۵۷ |
| ۵۲ | فصل فی حملها ودفنها | ۱۶۷ |
| ۵۳ | فائدة سنیة | ۱۷۵ |
| ۵۴ | فوائد شتی | ۱۷۹ |
| ۵۵ | فائدة سنیة | ۱۸۱ |
| ۵۶ | اختلاف، ضیافت او میلمستیا | ۱۸۲ |
| ۵۷ | فصل فی زیارة القبور | ۱۸۵ |
| ۵۸ | درویش واوئ | ۱۸۷ |
| ۵۹ | مسئله شرعیه | ۱۹۰ |
| ۶۰ | باب احکام الشهید | ۱۹۲ |

# دپښتو نور الایضاح دریم ټوك دمضمونو فهرست



| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ٦١ | فائدة سنية | ١٩٨ |
| ٦٢ | كتاب الصوم | ٢٠٠ |
| ٦٣ | فصل فى صفة الصوم وتقسيمه | ٢٠٦ |
| ٦٤ | فصل فيما يشترط تبييت النية | ٢١٣ |
| ٦٥ | فصل فيما يثبت به الهلال | ٢١٨ |
| ٦٦ | اختلاف دشک روژى | ٢٢٠ |
| ٦٧ | باب مالايفسد الصوم | ٢٣٣ |
| ٦٨ | باب مايفسد به الصوم ويجب به الكفارة | ٢٤٢ |
| ٦٩ | فصل فى الكفارة ومايسقطها عن الذمة | ٢٥١ |
| ٧٠ | باب مايفسد الصوم من غير كفارة | ٢٥٦ |
| ١ | فصل يجب الامساك بقية اليوم | ٢٦٩ |
| ٧٢ | فصل فيما يكره للصائم ومالايكره | ٢٧٠ |
| ٧٣ | تاريخي خبره- بنها نه فائده | ٢٧٥ |
| ٧٤ | داوسنى مشكلاتو حل | ٢٧٥ |
| ٧٥ | پوه سه. چې پيچكارۍ پرخوسته ده، | ٢٧٨ |
| ٧٦ | فصل فى العوارض | ٢٨٠ |
| ٧٧ | باب مايلزم الوفاء به | ٢٩١ |
| ٧ | باب الاعتكاف | ٢٩٦ |
| ٧٩ | داماما نو مفكوره داده | ٢٩٩ |
| ٨٠ | كتاب الزكوة | ٣٠٨ |







# دپښتو نور الایضاح دریم ټول دمضمونو فهرست



| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ٨١ | باب المصرف | ٣٢٦ |
| ٨٢ | مسائل شتى فى باب الزكوة | ٣٣٣ |
| ٨٣ | باب صدقة الفطر | ٣٣٧ |
| ٨٤ | كتاب الحج | ٣٤٤ |
| ٨٥ | دحج دمخه څوكول پكارى | ٣٤٥ |
| ٨٦ | نوى شرط دحج دسفره دمخه | ٣٤٦ |
| ٨٧ | فصل فى كيفية تركيب افعال الحج | ٣٧٥ |
| ٨٨ | جاهل عوام | ٣٨٨ |
| ٨٩ | بنهانه فائده | ٣٩٤ |
| ٩٠ | نوآسانه كاردادى | ٣٩٧ |
| ٩١ | دوئ فائدى | ٣٩٨ |
| ٩٢ | ضميمه | ٤٠١ |
| ٩٣ | دانصاف خبره | ٤٠٣ |
| ٩٤ | واقعه | ٤١٠ |
| ٩٥ | فصل. القران ان يجمع بين | ٤٢١ |
| ٩٦ | فصل، التمتع هوان يحرم | ٤٢٤ |
| ٩٧ | فصل، العمرة سنة | ٤٢٧ |
| ٩٨ | باب الجنايات | ٤٣١ |
| ٩٩ | درختى دحرم پرخلورقسمه دي، | ٤٣٩ |
| ١٠٠ | فصل، ولا بأس بقتل غراب | |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

محترمو لوستونکو! د حضرت ایوبي صاحب مدظله العالی خط کوم چې حضرت پخپل لاس لیکلی دی

دا د حضرت ایوبي اخلاص دی د مکتبة القراءت والتجوید کوئټې سره کوم چې ئې حقوق د طبع

و د کتابت و مکتبة القراءت ته هدیه کړي:

## خاتمة شرح نور الایضاح

الحمد لله والصلوة علی من اصطفی "اما بعد کړوونکی بې مدار محمد عبد الله "الایوبي السلیمانخیلی القندهاري" السني الحنفي النقشبندي" غفرله الباری "

دا چې په توفیق د رب العزت جل سلطانه کریم حبیب د شرح د نور الایضاح پښتو دوه جلده کړې ده په شنبې

په اول تاریخ ده ربیع الثاني "۱۴۲۳ هـ ق" ده پای ته ورسیده الحمد لله "

۱۶۱۱

چې مجموع د دی جلده تخمیناً یوزر او شپږ سوه مخه ته رسیږي اعلان "چونکه اول دوه جلده او حصی

جناب قاري فضل الحق صاحب خوشنویس کړیده" په ډیره عرق ریزي "او په ځلکه نصوده کتب چاپ کړي "" او دا دریم حصه م ده په کتابت وکړي پر طریقه د اولو دوو حصو"

او کړدي ان شاء الله تعالی چې د چاپ ته بې وسپارم "لهذا د روښانه لکه چې د اولو دوو حصو حقوق د طبع

ونا مسرده ته اهدا کړي وه ", د غه رنګه د دي دریمی حصه حقوق هم ورته سپارم"

هیڅ کتاب فروش یا تجارتي کتلي چې دا کتاب پرطبع ځوک او یا جزوي تبدیل چاپ کړي

او رنه د ډیرو سختو سزا محتاج سي" اخلاقي او تجارتي ", او حکومتي" لهذا اخوانو ته کاردی

سره خوشنی چې د کم کتاب محروش په کاروي ده ځکه دی په کراماتی قیمت دانسي وما علینا الا البلاغ

ابوعبدالله عبد الله الایوبي

الشیخ مولوی ابوالفضل محمد
عبدالله الشیبانی ایوبی
قندهاري سلیمان خیل
فون نمبر ۸۶۰۴۴۳۱

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

دل که رنجید از کسی خورسند کردن مشکلست
شیشه بشکسته را پیوند کردن مشکلست